مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۱۸** (از ۲۱ الی ۲۸ اسد ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................ ۲

**په ۲۰۱۷ کال کې د افغان کډوالو وضعیت ته کتنه ........................ ۳**

په هېواد کې دننه بې‌ځایه شوي ........................................ ۴

په ګاونډیو هېوادونو کې افغان کډوال ........................................ ۵

په اروپا کې افغان کدوال ........................................ ۷

**وضعیت وخیم امنیتی در سال ۲۰۱۷م و سناریوهای آینده ........................ ۹**

وضعیت امنیتی پس از ایجاد حکومت وحدت ملی ........................................ ۱۰

وضعیت امنیتی کشور در سال ۲۰۱۷م ........................................ ۱۱

آیندۀ وضعیت امنیتی افغانستان ........................................ ۱۲

**د مصر مرستیال سفیر د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له مشرتابه سره وکتل . ۱۵**

## مقدمه

په ګاونډیو او د نړۍ په نورو بېلابېلو هېوادونو کې د مېلیونونه افغان کډوالو ترشنګ، په هېواد کې دننه هم سلګونه زره افغانان له بېلابېلو سیمو کې د سختې جګړې له کبله ښارونو او نسبي امن ځایونو ته کډه شوي دي. په هېواد کې دننه د بې‌ځایه شوو کډوالو شمېر داسې کچې ته رسېدلی، چې له کبله یې افغانستان د نړۍ د دویم دا ډول هېواد نوم خپل کړی.

د هېواد امنتیي وضعیت ورځ تر بلې د پېچلتیا او خرابېدو په لور روان دی او نورو هېوادونو ته د افغانانو د کډوالی او په هېواد کې دننه بې‌ځایه کېدو پروسه اوس هم په چټکۍ سره روانه ده؛ خو په څنګ کې له ځینو هېوادونو په ځانګړي ډول ګاونډیو هېوادونو (ایران او پاکستان) څخه د روان میلادي کال په جریان کې هم سلګونه زره افغان کډوال هېواد ته راستانه شوي. کوم څه چې هلته د افغانانو د ناوړه وضعیت څرګندویه دي او غواړي خپل هېواد ته له ټولو ننګونو او ګواښونو سره سره، راستانه شي. دا چې په ګاونډیو او اروپایي هېوادونو کې دا مهال د افغان کډوالو وضعیت څه ډول دی، په هېواد کې دننه بې‌ځایه شوي څومره او وضعیت یې څه ډول دی؟ د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د دې اوونۍ د تحلیل په لومړۍ برخه کې یې په اړه شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې هم، په روان میلادي کال کې د هېواد امنیتي وضعیت ته کتنه لولئ. بېلابېلې شمېرې او راپورونه ښیي چې د ملي وحدت حکومت له جوړېدو راوروسته د هېواد امنیتي وضعیت، د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو وضعیتونو ترڅنګ په خراب حالت کې و. د ۲۰۱۷ میلادي کال له پیله د هېواد امنیتي وضعیت د تېر کال په پرتله هم خراب شوی او د راتلونکي په اړه زیاتې اندېښنې شته دي. دا چې د اوسني وضعیت په نظر کې نیولو سره د هېواد امنیتي راتلونکی څرنګه برېښي؟ دلته یې په اړه شننه لولئ.

د تحلیل په وروستۍ برخه کې هم له ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز څخه، په کابل کې د مصر د مرستیال سفیر د لیدنې او د مرکز له مشرتابه سره د ملاقات راپور لولئ.

# په ۲۰۱۷ کال کې د افغان کډوالو وضعیت ته کتنه



تېره اوونۍ په کابل کې د ملګرو ملتونو د ښځو د ځانګې مشرې ریباکه ټاویرس په ولسمشرۍ ماڼۍ کې یوې غونډې ته وویل، افغانستان په نړۍ کې دویم هېواد دی، چې د جګړو له کبله یې ډېرى وګړي بې‌ځایه شوي او دغه راز د بې‌ځایه شوو کورنیو وضعیت د اندېښنې وړ دی.[1]

له بله پلوه، د ۲۰۱۷ کال له جنورۍ د اګست تر ۱۲مې پورې کابو درې لکه تنه ناراجستر کډوال له ایران او پاکستان څخه بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي دي.

دا چې دا مهال په هېواد کې د بې‌ځایه شوو کډوالو شمېره څومره ده؟ په ګاونډیو هېوادونو کې د افغان کډوالو شمېره، وضعیت او د راجستر شوو او ناراجستره کډوالو د بېرته راستنېدلو بهیر څرنګه دی؟ او د دې ترڅنګ په اروپا کې د افغان کډوالو وضعیت څه ډول دی؟ دلته پرې شننه کوو.


[1] ازادي راديو، «م.م: افغانستان د کورنيو بې‌ځايه شويو له پلوه نړۍ کې دوهم هېواد دی»، د زمري ۱۷مه ۱۳۹٦، پرليکه بڼه:
https://pa.azadiradio.com/a/28665569.html

## په هېواد کې دننه بېځایه شوي

په افغانستان کې خلک د جګړې، اقتصادي او طبیعي آفتونو له کبله په بېلابېلو پړاوونو کې، یا د هېواد دننه بېځایه شوي او یا ګاونډیو هېوادونو/سیمو ته کډه شوي دي.

د شورویانو د اشغال پرمهال هم خلک اړ شول، چې یا ګاونډیو هېوادونو ته کډوال شي او یا هم د هېواد له بېلابېلو سیمو څخه، د پلازمېنې کابل په لور ولاړ شي. دا چې هغه مهال د هېواد دننه په تېره بیا په کابل کې څومره بېځایه شوي کورنۍ او خلک وو، په اړه یې دقیقې او کره شمېرې نشته؛ خو بیا هم د دوو افغان پېژندونکو «نانسي» او «لویس ډوپري» په اند د ثور له انقلاب څخه وړاندې د کابل نفوس تقریباً ۷۵۰ زره تنه و؛ خو د شورویانو له یرغل سره، د افغانستان له لرې پرتو سیمو څخه یو شمېر افغانان کابل ته کډه شول، ترڅو ځانونه د جګړو له تباهۍ وژغوري. دغه چلند بیا د کابل نفوس دوه برابره کړ (یعنې شاوخوا یونیم میلیون شو). د دې ترڅنګ د هېواد په نورو ولایتونو کې هم، خلکو تر ډېره د مرکزونو په لور مخه کړه او په مجموع کې یې د هېواد دننه بېځایه شویو شمېره شاوخوا دوه میلیونو تنو ته ورسوله. (وګورئ: شکل۱-)

**شکل۱-: د هېواد دننه کډوالي (۱۹۸۴م-۲۰۱٦م)**




*ماخذ: د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره*

په پورتني شکل کې شنه کرښه د شوروياڼو پرضد د افغان جهاد پرمهال د هېواد دننه بې‌ځایه شویو کډوالو اټکلي شمېره ښيي او سره کرښه بیا د ملګرو ملتونو د شمېرو له مخې، له ۱۹۹۲م څخه تر ۲۰۱٦م پورې د بې‌ځایه شویو کډوالو وضعیت ښيي.

په نوييمه لسیزه کې د کورنۍ جګړې له کبله ډېرى خلک په ښاري سیمو او د جګړې له ډګره لرې اوسېدل. په ۲۰۰۱ کال کې د افغانستان پر بېلابېلو سیمو د امریکایانو له لومړنیو بریدونو سره د داخلي کډوالو شمېره ۱,۲ ملیونو تنو ته ورسېده؛ خو ورسره جوخت په هېواد کې د امنیت له ټینګېدو سره د داخلي کډوالو شمېره هم ٦٥٠ زره تنو ته راکمه شوه او تر ۲۰۰٦ کال پورې د داخلي کډوالو شمېر همداسې مخ په ټیټېدو و. هغه مهال تر ډېره په هېواد کې دننه امنیت ټینګ و؛ خو له ۲۰۰۷ کال وروسته، چې په یو شمېر ولایتونو کې ناامنۍ زیاتې شوې، نو د هېواد دننه بې‌ځایه شوي کډوال هم مخ په زیاتېدو شول. په ۲۰۰۷م کې په ټول افغانستان کې تقریباً ۱۵۳۷۱۸ تنه داخلي کډوال وو؛ خو د ۲۰۱۵م کال د مې میاشتې تر پایه تقریباً ۹۱٦۴۳۵ تنه داخلي کډوال وو[2]. دا شمېره په ۲۰۱٦ کال کې ډېره زیاته شوه، او د بې‌ځایه شوو کچه یوازې په دغه کال کې له نیم میلیون زیاته او د هېواد دننه د بې‌ځایه شوو مجموعي کچه له یو نیم میلیون څخه زیاته شوه.

د ۲۰۱۷ کال له جنورۍ تر جون میاشتې پورې تقریباً ۱۵۹۰۰۰ تنه نور هم په هېواد کې دننه، د رواني جګړې او ناامنیو له کبله بې‌ځایه شوي او یوازې ۷٦۰۰ تنه بیا د طبیعي آفتونو له کبله کډه کولو ته اړ شوي دي.

## په ګاونډیو هېوادونو کې افغان کډوال

د ملګرو ملتونو د شمېرو له مخې اوسمهال په نړۍ کې د افغان کډوالو کچه له ۲,۵ میلیونو پورته ده، چې له دغو څخه یوازې ۱,۴ میلیونه په پاکستان کې راجستر شوي کډوال دي. په ۲۰۱٦ کال کې تقریباً ۳۸۰۰۰۰ تنه راجستر شوي افغان کډوال له پاکستانه بېرته خپل هېواد ته راوګرځېدل؛ خو د ۲۰۱٦ کال په پای کې د کډوالو د بېرته راستنېدلو پروسه وځنډېده. دا د بېرته راستنېدلو پروسه د ۲۰۱۷ کال په اپریل میاشت کې بیا پیل شوه او د ۲۰۱۷ کال د اپریل له ۳مې د مې تر ۳۱مې پورې کابو ۳۴۳۷٦ تنه راجستر شوي کډوال بېرته خپل هېواد ته راغلي دي.

[2] نور جزئیات، د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري وېب‌پاڼه:
UNHCR, Afghanistan, Conflict-induced internal displacement monthly update, May 2015

په بل اړخ کې، په ۲۰۱٦ کال کې په مجموعي توګه له پاکستان او ایرانه تقریباً ٦۹۲۱۵۷ تنه ناراجستر افغان کډوال راستانه شول. په دغو کې له پاکستانه ۲۴۸۱۸۹ تنه او له ایرانه بیا ۴۴۳۹٦۸ تنه ناراجستر راستانه شوي کډوال وو. له پاکستانه تقریباً ۲۲۵٦۳۰ تنه په خپله خوښه راغلل او ۲۲۵۵۹ تنه په زوره راستانه شول. په بل اړخ کې په ۲۰۱٦ کال کې له ایرانه هم ۲۴۸٦۵۳ تنه په خپله خوښه راستانه شول او ۱۹۵۳۱۵ تنه بیا په زوره راستانه کړای شول.

د ۲۰۱۷ کال له پیله د اګست تر ۱۲مې پورې په مجموعي توګه له پاکستانه ۸۱۲۸٦ تنه راستانه شول، چې په دغو کې ۷۸۵۸٦ تنه په خپله خوښه او ۲۷۰۰ تنه بیا په زوره راستانه کړای شول. په بل اړخ کې له ایرانه هم په مجموعي توګه ۲۱۵۰۸۴ تنه افغان کډوال راغلل، چې ۷۹۱۲۲ تنه یکې په خپله خوښه او ۱۳۵۹٦۲ تنه بیا په زوره راستانه کړای شول.

په پاکستان کې له افغان کډوالو سره بد چلند، د ملګرو ملتونو لهخوا له هر تن سره تقریباً ۴۰۰ امریکایي ډالر مرسته (که څه هم دا مرستې اوس بېرته راکمې شوې دي) له پاکستانه د بېرته راګرځېدلو تر شا عمده لاملونه وو. (وګورئ: جدول۱-)

**جدول۱-: له ایران او پاکستانه راستانه شوي کډوال (جنوري-اګسټ ۲۰۱۷)**

| نېټه | په خپله خوښه | | | | اجباري | | | | له پاکستانه (تول) | له ایرانه (تول) | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | تورخم | سپین بولدک | هرات | نیمروز | تورخم | سپین بولدک | هرات | نیمروز | | | |
| جنوري -اپریل ۲۰۱۷ | ۲۸۰۳۲ | ۱٦۱۳۲ | ۱۷۰۷۷ | ۲۷۹۴۵ | ۱۳۱٦ | ۴۸۲ | ۷۱۸۳ | ۵۸۹٦۷ | ۴۵۹۵۲ | ۱۱۱۱۷۲ | ۱۵۷۱۲۴ |
| مې ۲۰۱۷ | ۱۸۱۱۱ | ۱۸۸۹ | ۴۰ | ۱۰۱۴۸ | ۲۱۰ | ۰ | ۱۷ | ۲۲۲۵۷ | ۲۰۲۱۰ | ۳۲۴٦۲ | ۵۲٦۷۲ |
| جون ۲۰۱۷ | ۱۲۴۰ | ۱۸٦۰ | ۳۴ | ٦۹۰۹ | ۱۳٦ | ٦۳ | ۷ | ۱۰٦۸۰ | ۳۳۰۰ | ۱۷٦۳۰ | ۲۰٦۷۲ |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جولای ۲۰۱۷ | ۳۸۸۲ | ۴۰۹۴ | ۴ | ۱۰۷۳۱ | ۲۷۶ | ۱۲۳ | ۱ | ۲۴۶۶۸ | ۸۳۷۵ | ۳۵۴۰۴ | **۴۳۷۷۹** |
| له ۳۰ جولای تر ۵ اگست | ۹۰۵ | ۱۰۴۸ | ۲ | ۳۱۲۱ | ۳۲ | ۰ | ۰ | ۶۵۲۷ | ۱۹۸۵ | ۹۶۵۰ | **۱۱۶۳۵** |
| له ٦ اگست تر ۱۲ اگست | ۷۰۶ | ۶۹۶ | ۰ | ۳۱۱۱ | ۴۶ | ۱۶ | ۰ | ۵۶۵۵ | ۱۴۶۴ | ۸۷۶۶ | **۱۰۲۳۰** |
| **مجموعه** | ۵۲۸۶۶ | ۲۵۷۲۰ | ۱۷۱۵۷ | ۶۱۹۶۵ | ۲۰۱۶ | ۶۸۴ | ۷۲۰۸ | ۱۲۸۷۵۴ | ۸۱۲۸۶ | ۲۱۵۰۸۴ | **۲۹۶۳۷۰** |

## په اروپا کې افغان کډوال

د کډوالو چارو وزارت د معلوماتو پر بنسټ، اوسمهال شاوخوا ۳۵۰ زره افغان کډوال په اروپایي هېوادونو کې ژوند کوي، په اروپايي هېوادونو کې آلمان بیا هغه هېواد دی، چې ډېر افغانان پکې کډوال دي.

د آلمان د کورنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، د ۲۰۱٦م کال د ډسمبر تر ۳۱مې نېټې پورې دغه هېواد ته د ورغلو افغان کډوالو شمېر ۲۵۲۵۹۰ تنو ته رسېږي؛ خو د روان میلادي کال (۲۰۱۷) د جولای میاشتې تر پایه ۷۳٦۸ افغان کډوال آلمان ته رسېدلي دي. دغه راز په ۲۰۱۷ کال کې د ۴۴ سلنه ګډوالو د پناه غوښتنه هم منل شوې ده.

په داسې حال کې چې په ۲۰۱۰م کال کې بیا دغه شمېر ۵۱۳۰۵ تنه و. که څه هم د ۲۰۱٦م کال په جریان کې آلمان او ځینو نورو اروپایي هېوادونو د افغان کډوالو د بېرته ستنولو په اړه تصمیم ونیوه او له دې سره په اروپا کې هغه مېشت افغان کډوال چې ځانونه یې له سختو لارو اروپا ته رسولي وو، له ګڼو ستونزه سره مخ

شول. سلګونه تنه يې په زور ببرته خپلو هېوادونو ته ولېږل شول او يو زيات شمېر يې لا هم بې‌برخليکه په دغه هېوادونه کې شپې ورځې تېروي. د راپورونو له مخې، د روان ۲۰۱۷م کال په لومړۍ نيمايې کې په ټوليز ډول د کډوالو د بېرته ستنولو په لړۍ کې کموالی ليدل کېږي. د ۲۰۱۷ کال د جون مياشتې په پای کې د بېرته ستنولو ۱۲۵۴۵ موارد ثبت شوي، په داسې حال کې چې دغه شمېره د تېر کال په همدومره موده کې ۱۳۷۴۳ مورده وه.

# وضعیت وخیم امنیتی در سال ۲۰۱۷م و سناریوهای آینده



طارق شاه بهرامی سرپرست وزارت دفاع ملی، هفتهٔ گذشته (۲۳ اسد ۱۳۹٦) هنگام سخنرانی در ولایت قندهار اظهار داشت که در حال حاضر در ۲۳ ولایت کشور جنگ جریان دارد و ۹ ولایت زیر تهدید بلند امنیتی قرار دارد.[3]

در چند ماه اخیر چندین ولسوالی مهم در ولایات مختلف کشور سقوط کرده که در شماری آن‌ها به گونهٔ دوامدار جنگ جریان داشته، گاهی در تصرف طالبان و گاهی نیز تحت کنترول حکومت بوده است. در سقوط و بازپس‌گیری ولسوالی‌ها تلفات و ویرانی‌های زیادی نیز رخ می‌دهد.

این در حالی است که ادارهٔ سرمفتش خاص امریکا در امور بازسازی افغانستان (سیگار) در گزارشی به کانگرس امریکا گفته است که از اول جنوری تا هشتم ماه می ۲۰۱۷ میلادی، ۲۵۳۱ تن از نیروهای افغان کشته و ۴۲۳۸ تن دیگر زخمی شده‌اند.[4]

[3] کلید گروپ: «طارق شاه‌بهرامی: در ۲۳ ولایت کشور جنگ جریان دارد»، ۲۳ اسد ۱۳۹٦ هـ ش: http://tkg.af/%D8%B7%D8%A7%D8%B1%D9%82-%D8%B4%D8%A7%D9%87%E2%80%8C%D8%A8%D9%87%D8%B1%D8%A7%D9%85%DB%8C-%D8%AF%D8%B1-23-%D9%88%D9%84%D8%A7%DB%8C%D8%AA-%DA%A9%D8%B4%D9%88%D8%B1-%D8%AC%D9%86%DA%AF-/%D8%AC%D8%B1%DB%8C

این همه از یک‌سو و انفجارهای مرگبار در پایتخت و شهرهای بزرگ کشور در کنار حملات اخیر تهاجمی بر پایگاه‌های نظامیان افغان در مناطق مختلف کشور از سوی دیگر، نشان‌دهندۀ وخامت روزافزون وضعیت امنیتی در کشور است.

اینکه با روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی وضعیت امنیتی کشور در چه وضعیتی قرار داشت؟ از آغاز سال ۲۰۱۷ تا اکنون وضعیت امنیتی کشور چگونه بود؟ و با در نظرداشت رویدادهای سال جاری میلادی، اوضاع امنیتی کشور به کدام سو می‌رود؟ پرسش‌هایی اند که در این تحلیل مورد بررسی قرار گرفته است.

## وضعیت امنیتی پس از ایجاد حکومت وحدت ملی

پس از تشکیل حکومت و حدت ملی، با وجود اینکه وضعیت امنیتی در سرتاسر کشور وخیم بود، جغرافیای جنگ نیز از جنوب کشور به شمال کشور گسترش یافت و برخلاف گذشته، جنگ در ولایت‌های شمال کشور شدت یافت. علاوه بر سقوط چندین ولسوالی در ولایت‌های شمال کشور (ولسوالی‌های چهاردره و دشت ارچی در کندز، کوهستان در سرپل، یمگان در بدخشان، غورماچ در فاریاب و تاله‌وبرفک و دندغوری در بغلان)، شهر کندز نیز نخستین شهری شد که پس از سقوط رژیم طالبان، به دست طالبان سقوط کرد.

براساس گزارش "لانگ وار ژورنال" که در اکتوبر ۲۰۱۵م منتشر شد، در سال ۲۰۱۵م از جملۀ ۳۹۸ ولسوالی در سرتاسر افغانستان ۳۱ ولسوالی تحت کنترول طالبان بوده و در ۳٦ ولسوالی دیگر نیز، طالبان اطراف ولسوالی‌ها را در کنترول خود داشتند و حکومت تنها در مراکز این ولسوالی‌ها حضور داشت. در سال ۲۰۱٦م نیز نظر به گزارش سیگار، ۳۳ ولسوالی در ۱٦ ولایت کشور تحت کنترول و یا نفوذ مخالفین مسلح دولت قرار داشت و در شمار زیادی دیگر جنگ‌های شدید جریان داشت.

در این گزارش همچنان گفته شده بود که حدود ٦۳٫۴ درصد خاک افغانستان تحت کنترول دولت افغانستان است. این در حالی بود که جنرال جان نیکلسون، فرمانده نیروهای امریکایی در افغانستان در ماه سپتامبر ۲۰۱٦ گفته بود که نیروهای افغان بر ٦۸ تا ۷۰ درصد جمعیت کشور کنترول یا نفوذ دارد. به این ترتیب در سال ۲۰۱٦م تقریبا یک سوم خاک افغانستان تحت کنترول مخالفین مسلح دولت قرار داشت.[5]

---

[4] هشت صبح: «گزارش تکان دهندۀ سیگار از میزان تلفات نیروهای امنیتی» ۱۱ اسد ۱۳۹٦ هـ ش: http://8am.af/1396/05/11/a-shocking-report-of-cigarettes-on-the-casualties-of-the-security-forces/

[5] مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوي: «افزایش تلفات نیروها چالشی برای حکومت»، ۱۵ عقرب ۱۳۹۵ هـ ش، http://csrskabul.com/pa/?p=3131

علاوه بر حملات مخالفین مسلح دولت، حملات مرگبار هوایی نیروهای خارجی نیز جان صدها تن از افراد ملکی و گاهی هم نیروهای نظامی را گرفت، در حالیکه حکومت وحدت ملی در برابر چنین رویدادها سکوت اختیار کرد.

از سوی هم، یوناما در گزارش خود در رابطه به تلفات ملکی گفته بود که از اول جنوری الی ۳۰ دسمبر ۲۰۱۵ میلادی ۱۱۰۰۲ فرد ملکی در رویدادهای جنگی کشته و زخمی شده بود که نسبت به سال‌های ۲۰۰۹ الی ۲۰۱۴م به بالاترین سطحش رسیده بود. اما در گزارش سال ۲۰۱٦م یوناما، ۱۱۴۱۸ مورد تلفات ملکی در رویدادهای جنگی به ثبت رسیده که ۳۴۹۸ تن کشته و ۷۹۲۰ تن دیگر زخمی شده‌اند و این رقم نظر به سال قبل نشان‌دهندهٔ افزایش سه درصدی تلفات است.

علاوه بر بلند رفتن میزان تلفات افراد ملکی، تلفات نیروهای امنیتی نیز پس از ایجاد حکومت وحدت ملی افزایش یافته است. چنانچه در جریان سال ۲۰۱۵م نظر به گزارش سیگار، ۵۰۰۰ تن از نیروهای امنیتی در جنگ علیه مخالفین مسلح دولت کشته و ۱۵ هزار دیگر زخمی شدند. اما آمار سال ۲۰۱٦م که توسط همین اداره به نشر رسید، وضعیت بدتری نظر به سال ۲۰۱۵ را نشان می‌دهد. از اول جنوری تا ۱۹ آگست همین سال، ۵۵۲۳ تن از نیروهای امنیتی افغان کشته و ۹٦٦۵ تن دیگر زخمی شده بودند.

## وضعیت امنیتی کشور در سال ۲۰۱۷م

وضعیت امنیتی در سال ۲۰۱۷م نسبت به سال ۲۰۱٦م بدتر شده است. در آغاز این سال، حملات و انفجارهای مرگباری در پایتخت و سایر شهرهای بزرگ کشور رخ داد که از حمله بر قول اردوی ۲۰۹ شاهین، حمله بر شفاخانهٔ چهارصد بستر سردار محمد داوود خان، انفجار نیرومند در منطقهٔ دیپلوماتیک شهر کابل، حمله بر پایگاه‌های نظامیان افغان در ولسوالی شاه‌ولی‌کوت قندهار، حمله بر نماینده‌گی نوی کابل‌بانک در هلمند و غیره را می‌توان یاد کرد.

از آغاز سال ۲۰۱۷ میلادی، ولسوالی‌های تاله‌وبرفک ولایت بغلان، زیباک ولایت بدخشان، کوهستان ولایت فاریاب، تیوره ولایت غور، قلعه‌زال ولایت کندز، شورابک ولایت قندهار، سنگین ولایت هلمند، جانی‌خیل ولایت پکتیا به دست طالبان سقوط کرده و شماری نیز چندین بار با خطر سقوط مواجه شده و یا هم برای چند ساعت در تصرف طالبان قرار گرفته است.

افزایش حملات هوایی نیروهای خارجی در ماه‌های اخیر نیز که مردم ملکی را به خاک و خون کشانیده‌اند، چالشی دیگری در این راستا است. نیروهای خارجی در این سال در چندین حملۀ هوایی غیرنظامیان و حتی نظامیان افغان را هدف قرار دادند.

یافته‌های یوناما نشان می‌دهد که در شش ماه نخست سال ۲۰۱۷ میلادی، ۱۶۶۲ فرد ملکی افغان در درگیری‌های مسلحانه و حملات انفجاری جان باخته و ۳۵۸۱ تن دیگر زخم برداشته اند. این در حالی است که در شش ماه نخست سال ۲۰۱۶ میلادی، ی۱۶۰۱ فرد ملکی در جریان درگیری‌های مسلحانه کشته و ۳۵۶۵ تن دیگر زخمی شده بودند[6].

برنبیاد گزارش‌های سیگار، از اول ماه جنوری تا ۱۲ ماه نوامبر سال ۲۰۱۶ میلادی، ۶۷۸۵ تن از نیروهای امنیتی افغان کشته و ۱۱۷۷۷ تن دیگر آنها زخمی شده بودند. ولی این رقم در سال جاری میلادی بالا رفته است. چنانچه گزارش اخیر سیگار می‌نگارد که تنها از اول جنوری الی هشتم ماه می سال ۲۰۱۷م ۲۵۳۱ سرباز افغان کشته و ۴۲۳۸ سرباز دیگر زخمی شده‌اند.

## آیندۀ وضعیت امنیتی افغانستان

آیندۀ وضعیت امنیتی افغانستان به چند نکتۀ ذیل ارتباط دارد:

**استراتیژی جدید نظامی امریکا برای افغانستان:** جنگ افغانستان از طولانی‌ترین جنگ‌های خارجی امریکا به شمار می‌رود که از ۱۶ سال به این‌سو جریان دارد. با به قدرت رسیدن دونالد ترمپ در ایالات متحده امریکا، نگرانی‌های طولانی شدن و امیدهای پایان دادن به این جنگ همزمان وجود دارد. قرار بود استراتیژی جدید امریکا درباره افغانستان در اواسط ماه جولای (۲۰۱۷) اعلام شود، اما اختلاف‌نظرها بین مقام‌های امریکایی در این رابطه، سبب تاخیر در اعلام پالیسی جدید امریکا در قبال افغانستان شده است. رئیس جمهور امریکا هفتۀ گذشته (پنجشنبه ۲۰ اسد) در یک نشست خبری در ایالت نیوجرسی گفت که اداره‌اش در مورد استراتیژی جدید واشنگتن در افغانستان به تصمیم نهایی نزدیک شده و این تصمیم برای او بسیار مهم است.

---

[6] رادیو اشنا: «یوناما: در شش ماه گذشته بیش از ۱۶۶۰ غیرنظامی افغان کشته شد»، ۲۶ سرطان ۱۳۹۶هـ ش:

https://www.darivoa.com/a/more-than-1600-afghan-civilians-were-killed-during-six-past-month/3947071.html

مقام‌های امریکایی گزینه‌های مختلفی را برای رسیده‌گی به قضیهٔ افغانستان، ارائه کرده‌اند که یکی از این گزینه‌ها نیز خصوصی‌سازی جنگ افغانستان با اعزام جنگجویان کرایی به افغانستان است. هرچند تا اکنون مشخص نیست که ادارهٔ جدید امریکا کدام گزینه را انتخاب خواهد کرد، ولی افزایش نیروهای خارجی و یا خصوصی‌سازی این جنگ، روحیهٔ جنگجویان مخالف مسلح دولت را تقویت می‌کند و روی پروسهٔ صلح تاثیرات منفی به جا می‌گذارد. در جانب دیگر، سپردن ماموریت افغانستان به شرکت‌های خصوصی عواقب بدی را در پی خواهد داشت و امنیت کشور را بیش از پیش پیچیده‌تر خواهد کرد.

**پایان دادن به جنگ و تامین صلح:** پایان دادن به جنگ جاری در افغانستان و تلاش‌های واقعبینانه برای مصالحهٔ ملی، رابطهٔ مستقیم به آیندهٔ وضعیت امنیتی کشور دارد. اگر امریکا و جامعهٔ جهانی می‌خواهند تا جنگ در افغانستان پایان یابد، یگانه راه‌حل مسئلهٔ افغانستان، اجازه دادن به خود افغان‌هاست تا برای رسیدن به آشتی ملی تلاش کنند و با هم مشکلات‌شان را حل نمایند. ولی امریکا که این جنگ را آغاز کرده، در پایان دادن مسؤولانهٔ آن نیز نقش اساسی را بازی کرده می‌تواند.

**پالیسی جنگ و صلح حکومت افغانستان:** پس از تشکیل حکومت وحدت ملی، حکومت افغانستان تلاش کرد تا از طریق سیاست خارجی‌اش به صلح با طالبان برسد. در گام نخست از طریق کشورهای چین و پاکستان تلاش حاضر کردن طالبان به میز مذاکرات صلح کرد، اما این پالیسی حکومت وحدت ملی تااکنون به دلیل نداشتن هیچ دست‌آوردی، ناکام شده است.

این پروسه زمانی به بن‌بست رسید که حکومت افغانستان پس از ناکامی حکومت در مذاکرات صلح از طریق سیاست خارجی، به جای راه‌کار موثر دیگر برای پیشبرد پروسهٔ صلح پالیسی جنگ با طالبان را در پیش گرفت و عملیات نظامی گسترده را در مناطق مختلف کشور علیه طالبان آغاز نمود و از لهجهٔ تندی در برابر آن‌ها نیز کار گرفت. ازاین‌رو، با درنظرداشت تجربهٔ گذشته، یگانه راه‌حل قضیهٔ افغانستان گفتگوهای صلح است و ادامهٔ پالیسی جنگ به جای صلح، موانع بیشتری در برابر صلح ایجاد خواهد کرد و وضعیت امنیتی کشور را روز به روز بدتر خواهد کرد.

**نقش کشورهای منطقه:** همکاری و یا عدم همکاری همسایه‌ها و سایر کشورهای منطقه در قضیهٔ افغانستان، رابطهٔ مستقیم با وضعیت امنیتی در افغانستان دارد. پس از ایجاد پایگاه‌های دایمی نظامی امریکا در افغانستان و ظهور گروه "دولت اسلامی" در این کشور، برخی کشورهای منطقه به خصوص روسیه، مکرراً

سیاست‌های امریکا را در امر مبارزه با "تروریزم" مورد انتقاد قرار می‌دهند. بالعکس ناتو و امریکا، روسیه را به حمایت از طالبان متهم می‌کنند و مقام‌های افغان و امریکایی نگران روابط روسیه و طالبان اند.

این رویارویی‌های کشورهای منطقه و جهان، علاوه بر افغانستان وضعیت امنیتی منطقه را نیز با چالش‌های زیادی مواجه می‌کند و افغانستان را به میدان جنگ‌های نیابتی طولانی مبدل خواهد کرد.

# د مصر مرستیال سفیر د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له مشرتابه سره وکتل



په افغانستان کې د مصر سفارت مرستیال ابراهیم ممدوح فوده د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز څخه لیدنه وکړه.
په دغه ملاقات کې چې د زمري میاشتې په ۲۲مه (۱۳۹٦) وشو، ښاغلي ممدوح فوده د خپلې لیدنې موخه د مرکز اغېزناکو فعالیتونو ته په کتلو سره، د دغه مرکز په اړه د لا زیاتو معلوماتو ترلاسه کول وبلل.
په سر کې ښاغلي ممدوح فوده د افغانستان د وضعیت په تړاو د مصر لیدلوري ته اشاره وکړه. نوموړي وویل، چې دوی ته په اوسني وخت کې په افغانستان کې د سولې او امنیت ټېنګښت خورا مهمه خو په ورته وخت کې ډېره پېچلې قضیه ښکاري. د دې ترڅنګ یې په افغانستان کې د مصر د ځینو ښوونیزو بنسټونو او فعالیتونو په یادونې سره زیاته کړه، چې دوی هڅه کوي په افغانستان کې د ښوونې او روزنې په برخه کې اغېزناک رول ولوبوي.

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز مشر دکتور عبدالباقي امين د مصر مرستيال سفر له راتګ څخه مننه وکړه او د مرکز ځينو مهمو فعاليتونو ته په اشارې سره يې وويل: د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د څېړنو او فعاليتونو تمرکز تر ډېره په هېواد کې د روانو ستونزو د هواري په حل‌لارو دی.

د مرکز د علمي شورا مشر دکتور مصباح الله عبدالباقي هم په خپلو خبرو کې د مصر او افغانستان پر اړيکو رڼا واچوله او په ځانګړي ډول يې په مصر کې د افغان محصلينو ځينو ستونزو او د هغو د هواري اړتيا ته اشاره وکړه. نوموړي دغه راز وويل، چې مصر د اسلامي نړۍ يو مهم هېواد دی او مرکز غواړي په هغه هېواد کې له څېړنيزو مرکزونو سره اړيکې او ګډې همکارۍ ولري. ښاغلي ممدوح فوده هم په دې برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.